حزب ملی آزادی افغانستان    د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند

Afghanistan National Liberty Party

# "د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند" لنډ مهاله منشور

نوملړ


سریزه ........ 1
پېژندنه: ........ 2
دویم پړاو: ........ 3
لومړی څپرکی ........ 4
اوسنی حالت او د بحران اساسي ريښې ........ 4
روان وضعيت: ........ 4
1. د بحران اصلي ريښي: ........ 6
کورنی اړخ: ........ 6
بهرنی اړخ: ........ 7
دوهم څپرکی ........ 8
بنسټيز نظرونه او موخې ........ 8
1. دولتي سیستم او نوی ټولنیز تړون: ........ 8
2. د افغانستان د وګړو د اساسي حقونو ملي وثيقه: ........ 9
3. خپلواک دولت او ازاد ملت: ........ 10
4. سیاسي واک او د مشروعیت مسئله: ........ 12
5. غیر متمرکزه حکومتداري: ........ 13
6. د مرکز او لیرې پرتو سیمو ستونزه: ........ 14
7. ټولنیز او کلتوري پرمختګ: ........ 15
8. اقتصادي پرمختګ: ........ 17
9. بهرنی سیاست: ........ 18
10. دفاعي - امنيتي پالیسي: ........ 20
دریم څپرکی ........ 20
د لیرد دورې لپاره وړاندیز شوې حل لارې ........ 20
حل لارې: ........ *20*
لويه جرګه: ........ 21
د جرګې دندې: ........ 22
د استدلال پایله: ........ 24

د لوی او مهربان خدای په نامه

د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند لنډ مهاله منشور

## سریزه

د انســـانانو هر نســـل د خپل اوږد عمر په اوږدو کې په ټولیز یا فردي ډول داســـي کړني یا پریکړې کوي، چې د خپل او راتلونکي نسل پر برخلیک مهم اغیز لري، دا ټولیز تصـامیم یا ټولنو ته د هوسـایني دریځي پرانیزي یا یې د تیاریو په دښـته کې ایســـار ســـاتي؛ خو د تاریخ په اوږدو کې د بریالیو ملتونو یوه مهمه ځانګړنه داده چې هغوی د حالاتو پر وړاندې په هوښیارۍ، منطق او علمي استدلال سره په خپله یا د خپلو ریښتنو استازو له لارې هوښیارانه غبرګون ښيي.
له بده مرغه افغانانو له کړاوه ډک او دردونکی مســـیر طی کړی او هر نســـل ته یې د ســـختۍ او بدبختۍ ورځې په میراث رسیدلي دي، سره له دې چې د افغان تاریخ په ډېرو پاڼو کې د خپلواکۍ او هیواد ساتنې په ځېر سپېڅلي جګړې هم شته؛ خو له بده مرغه د افغان ولس د مبارزو او بریا په پای کې د ملت هڅې د شخصـي واک یا قومي ، سمتي او ایډیالوژیکي تمایلاتو له امله ضایع شوې دي.
د تیرې نیمې پیړۍ جګړو او ناخوالو د افغان ولس نږدې ټولې شتمنۍ اخیست او له نا امنۍ، بې باورۍ، بې عدالتۍ، تبعیض، بې وزلۍ، بې کورۍ، وزګارتیا، کډوالۍ، اعتیاد او فزیکي او رواني ناروغیو یې لویه برخه کړېږي؛ خو ځو ســـیاســـي او استخباراتي سوداګرو د خلکو له احساساتو څخه په ګټنې، د سیاسي او قومي ایډیالوژیو بیلا بیلې هڅې پرانیستې او د شخصـي یا ګوندي موخو لپاره د سیاسي چتر فعالیت کاروي او ملاتړ یې هم له بهره کیږي.
دا ډل سیاسي دلالان د پردیو په اشاره د وطن په لوټ او تالان کې هم تر نورو وړاندې وو/دي او د خلکو د آزادۍ پر وړاندې یې هم په بیلا بیلو رنګونو کې خپل رول ادا کړی دی.
د افغان وطن ستراتیژیک جغرافیوي موقعیت چې د منځنۍ او جنوبي اسیا تر منځ پروت او هم یې منځنۍ ختیځ او ختیځه اسیا سره په یو ډول نښلولي ددې لامل شوی، چې د سیمې او نړۍ لوبغاړي تل په دې جغرافیه کې د خپلو ګټو پاللو هڅه وکړي او زموږ د قضیاوو اړخونه یې لا پیلچې کړي.
هر کله چې د همدې هیوادونو علایق د افغانســـتان د اکثریت په ګټه مدیریت شـــوي نو دا ځلور لارې د انســـانانو د فکرونو، هنرونو او ســـوداګریزو توکو د تبادلې لاره ګرځیدلې ده، او د دې خاورې خلکو د بشـــري تمدن په وده کې مثبت رول لوبولی او کله چې بیا ځانغوښتونکو او ظالمو واکمنانو د خپل شخصـي او کورني واک د ساتلو لپاره له پردیو سره لاس یو کړی نو هیواد یې د نیابتي جګړو، ټکر او د تاوتریخوالي او وینو تویولو پر ډګر بدل کړی او تر څنګ یې د هیواد هر څه له خاورو سره خاورې کړي او د بشري تمدن په تاریخ کې یې داسې ناوړه میراث پرې ایښــې چې منفي اغیزې یې د راتلونکو نسلونو په ژوند کې هم محسوسې دي.

د همدې تګلارو په پایله کې د تېرو پنځوسو کلونو نسلونو ته له تاریخي درد او پښیمانۍ پرته بل هیڅ په میراث نه دي پاتې او د انســاني تمدن له کاروان څخه د هیواد وروســته پاتې والی یې هم یوه بله پایله ده. د همدې پرلپســې تاریخي تیاروتنو پیټی د نننی نسل پر اوږو پروت دی. زموږ د معاصر تاریخ په دې لنډه موده کې د شپاړسم ځل لپاره دولتي نظام او د هغه ټولنیز او خدماتي بنسټونه له منځه ولاړل او د هیواد مادي، فرهنګي او ټولنیز بنسټونه نابود شـزول او اوس موږ د خپل تاریخي مسیر په داسې پړاو کې یو چې د یوه واحد هیواد په توګه د افغانستان ژوند او بقا له جدي ګواښ سره مخامخ دي.

د اوسـني عصـر د واقعیتونو او له تېرو تېروتنو څخه د درس اخیسـتلو پر بنسـټ د اسـاسـي او منطقي حل په موندلو کې ځنډ کولای شي د افغانستان د هویت کربښه پای ته ورسوي.

ددې موضــوعاتو په درک ســره موږ باور لرو چې د افغانســتان هر آزاد وګړی د انســاني کرامت، د هیواد ازادۍ او د خپلې شـخصـي ازادۍ د سـاتلو برخه کې مسـوولیت لري، څو د خپل ځان او راتلونکو نورو نسـلونو د برخلیک په ټاکلو کې اقدام وکړي، په ټولنیزو او مدني فعالیتونو کې ښـکیل شـي، او پرې نږدو چې نور هم د وروسـته پاتې والي دا مسـیر طی کړو له همدې امله  په دې حساسو تاریخي شیبو کې هر ډول مدني او سیاسي کړنه یو بشري او آزادي غوښتونکی عمل دی، چې پر اوس او راتلونکي به خامخا اغیز لري.

 د تېرو څلوېښتو کلونو ترخه درسونه موږ ته دا راښیي چې باید له تاریخي خوبه راویښ شو، د دې دردونکو درسونو په رڼا کې خپل دوسـت او دښـمن، او په خپله خاوره کې د ټولنیزو شـرایطو او انسـاني کلتور تنوع وپيژنو، او اجازه ورنکړو د ټول ملت برخلیک یو ځل بیا د شـخصـي موخو، وړو ډلو او داسـتانونو قرباني شـي، او د عصـر په جیوپولیټیک او پیچلو لوبو کې موږ بیا د سون توکي شو.

موږ یو ګروپ د افغانستان اتباع، د دې تاریخي مسؤلیت او انساني رسالت په درک سره، د دې خاورې د خلکو د ژوند په دې سخت پړاو کې، د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ازادۍ او برابرۍ د رامنځته کولو او ولس ته د سیاسي واک د بیرته ستنولو چې اصلي خاوندان یې دي د سیاسي ډګر او مبارزې لپاره د (ملي ازادۍ ګوند) د یوه منظم سیاسي جوړښت او بنسټ په توګه رامنځ ته کړی، تر څو په دې توګه د ټولنیز یووالي، سیاسي او مدني حرکتونو له لارې فعالیت ولرو.

## پېژندنه:

د افغانستان د ازادۍ ملي ګوند (د ملي ازادۍ خوځښت فکري چوکاټ) لپاره د کار اساسي کرښې او د پرمختیایي کړنو اصلي محورونه ترتیب شـوي او په دې منشـور کې پرې لنډ بحث شـوی، په دې لیکنو کې موجودو سـتراتیژیک ارزښـتونه ته شـوې اشـارې موږ مکلفوي چې د افغانانو د مشـارکت او آزادي ارادې پر بنسـټ افغانستان کې د ملي حاکمیت د تامین، د یوه خپلواک او متحد هیواد د ملي ګټو د خوندي کولو او د خپلې خاورې د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو لپاره عمل وکړو.

زموږ په باور دغو انسـاني موخو ته د رسېدو لپاره د سیاسـي کړنو دوه پړاوونو ته اړتیا ده، چې په دوه جلا عبارتونو کې یې شرح کوو.

**لومړی پړاو:**

د مختلفو سیاسي لارو په کارولو سره د لنډمهاله انتقالي دورې رامنځته کول چې په مرسته یې په هیواد کې مشروع سیاسي واک د ترلاسه کولو بنسټ په یوه قانوني چوکاټ کې د افغانانو ازاده اراده و اوسي.
د دې مرحلې بشپړول د دویم ګام پیل دی، چې تر هغه وروسته په افغانستان کې د حکومت او مدیریت بحث مخته راځي چې د قانون پر بنسټ باید په مشخص ډول تعریف شي.

د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند په لومړیتوبونو کې هم دادي، چې د افغانانو د سیاسي کړنې همغږي شي او له اوسني سیاسي، ټولنیز او اقتصادي کړکېچ څخه د وتلو لپاره د سیمه ییزو او نړیوالو ښکېلو اړخونو سره ګډ کار وشي، تر څو اوسنی کړکیچ پای ته ورسیږي او د یوه قانوني نظام د رامنځته کیدو او د واک د تصمیم مرجع د افغان ولس ازاده اراده شي او یوه قانوني حاکمیت رامنځته شي.

ددې چارې لپاره د داسې یو منشور اړتیا ده چې زموږ ستراتیژیکي موخې او سیاسي میتودونه واضح کړي او بیا یې د عملي کیدو لپاره ګام واخلو او دا سند تر پایه همدا نظر په لنډو کې منعکسوي.

دویم پړاو:

په دې پړاو کې به د مدني او سیاسي غوښتنو له لارې د سیاسي مدیریت، حکومتولی د مدیریت بڼې او یا د خدماتو د وړاندې کولو طرز د بحث وړ موضوعات وي؛ دا بحث هغه وخت مانا پیدا کوي چې په ټول افغانستان کې د ازادو ټاکنو لپاره زمینه برابره وي او د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند هم له خپل سیاسي آدرسه د رقابت په ډګر کې حضور ولري.
موږ باور لرو چې تلپاتې ســوله یوازې د یو هیواد د اتباعو د ارادې پر بنســټ او د قانون د حاکمیت په رامنځته کولو ســره ممکنه ده. د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند هیله لري چې د ټولنې د بیلا بیلو اقشارو او د خلکو په پراخ ملاتړ سره په دغه سند کې د ټاکل شـویو موخو د تر لاسـه کولو لپاره چې تلپاتې سـوله او د مشـروع نظام او حاکمیت راتګ یې لوی بحثونه دي ننګه وکړي، موږ باور لرو دغه ملاتړ د یوه قانوني چوکاټ له جوړیدو سـره مرسـته کوي او د هېواد روان کړکېچ او درد له منځه وړي، چې په دې سره به زموږ کړیدلو هیوادوالو ته له پرله پسې کړاوونو وروسته د آرامۍ د سا اخیستلو فرصت برابر شي.
د دې پلان پلي کول په بالقوه توګه کولی شــي موږ د یو بل منلو او انســاني همغږۍ په چوکاټ کې چې د انســانیت، ازادۍ، برابرۍ او عدالت پر بنسټ ولاړ وي چمتو کړي او موږ ته د آزادو خلکو له وقار او ارزښت سره ژوند، دوامداره هوسـاینه او انساني امنیت راوبښي.

لومړی څپرکی

# اوسنی حالت او د بحران اساسي ریښې

روان وضعیت:

افغانســتان اوس د ملي واک، مشــروع حکومت او د قانون حاکمیت په نه لرلو ســره د نړۍ یوازینی هیواد دی او د هرې ورځې په تیریدو سره د انساني تمدن او انساني ټولنې له کاروان څخه لا وروسته پاتې کیږي.
حقیقت دا دی چې زموږ د هیواد نننی نســل د یوې نیابتي وســله والې ډلې تر واکمنی لاندې د مطلقې بې عدالتی په بستر کې ژوند کوي او افغانستان د یوه لوی زندان بڼه غوره کړې چې شاوخوا څلویښت میلیونه بې ګناه انسانان پکې زنداني دي.
په دې جغرافیه کې د ولس ټول انســاني او فردي ازادۍ او د مدني حرکتونو حقونه ســلب شــوي او د خلکو روحونه هره ورځ د نافذو شــرایطو له شــکنجې ســره مخ کیږي. د هېواد د نیمایي نفوســو هویت چې د افغانســتان باعزته او زړورې ښځې دي، رد شوې او د هغوی ټولې بشري ازادۍ او حقونه په ښکاره توګه تر پښو لاندې کېږي. د ښځو، نژادي او کلتوري اقلیتونو پر وړاندې تبعیض په پراخه کچه دی. د هر افغان ژوند تر ګواښ لاندې دی او د هیواد په فضا کې وېره حاکمه ده. له بلې خوا په تېرو شلو کلونو کې په هېواد کې کرل شوي څو استعدادونه هم د جمهوریت له سقوط وروسته کډوال شول او د ټولنې فضا د پخوا په پرتله د اشرافو او لوستو خلکو څخه خالي شوې ده. په بل عبارت، په دې سیمه کې د انسان د هوساینې هیلې وچې شوې او د خلکو پر شونډو مسکا له منځه تللې.
د طالبانو د وسله والې ډلې تر واکمنۍ وروسته، تر دې لیکنې پورې، د هېواد شاوخوا 97 سلنه وګړي د بې وزلۍ تر کرښې لاندې دي، د بېکارۍ کچه له 40 سلنې څخه زیاته شوې ده، چې د نړیوالو سازمانونو د راپورونو له مخې دا شمېر نږدې 20 میلیونه او نیمایي ته لوړ شوی دی. د افغانستان ډېر نفوس خوراکي توکو ته بېړنۍ اړتیا لري. په ورته وخت کې شاوخوا یو ملیون ماشومان په خوارځواکۍ اخته دي او د دې خاورې شاوخوا نهه میلیونه وګړي د کډوالۍ او پناه غوښتونکو په توګه په بهرنیو هېوادونو کې شپې سبا کوي او په هېواد کې شاوخوا یو میلیون وګړي چې ډېری یې ځوانان دي پر مخدره توکو روږدي دي.
لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د هیواد ښځې چې زموږ د ټولنې نیمایي برخه ده، د هیواد په اداره کې د ګډون، کار او زده کړې له حق څخه بې برخې دي او د اتلو میرمنو د پرله پسې هڅو او مبارزو سره سره د افغانستان او د نړیوالې ټولنې د فشارونو په پایله کې لا هم د ښوونځیو دروازې زموږ د هېواد د نجونو پر مخ خلاصې شوې نه دي او زموږ د ټولو دیني او کلتوري ارزښتونو او د اوسني عصر د غوښتنو خلاف بې ګناه ماشومان د زده کړې له حقه بې برخې دي.

په هېواد کې بشري حقونه، نړیوال ارزښتونه او د لږکیو بېلا بېل حقونه په بې ساري ډول تر پښو لاندې کېږي، او په افغانستان کې د مېشتو ټولو طبقو او توکمونو پر وړاندې د ښکاره بې عدالتۍ تر څنګ په زرګونو کسان وژل کېږي او د هیواد اتباع مخامخ له نسل وژنې سره مخ شوي دي.

د بیان د ازادۍ حق او د ازادو مطبوعاتو موجودیت چې افغانستان په تېرو شلو کلونو کې تجربه کړ او د نننۍ افغان نسل یوه لویه لاسته راوړنه وه په جدي توګه تر پښو لاندې شوه. د هېواد په ګوټ ګوټ کې غیر قانوني وژنې، پرله پسې نیول کیدل، شکنجه، د هېوادوالو د هویت تر پښو لاندې کیدل، د جګړې د فرهنګ ترویج، ځانمرګي او چاودنې هره ورځ زموږ ملکي او بې ګناه وګړي اخلي.

که څه هم افغانستان له ډېرو کلونو راهیسې د ترهګرۍ قرباني دی، خو اوس وېره شته چې دغه هېواد به د سیمه ییزې او بهرنۍ ترهګرۍ د ترویج او صادرولو په مرکز بدل شي. په دغه هېواد کې د بېلابېلو هېوادونو د جنګیالیو موجودیت د سیمې او نړۍ د ثبات او امنیت لپاره یو احتمالي ګواښ ګڼل کېږي.

د طالبانو د نامشروع واکمنۍ له یو نیم کال وروسته، د ملاتړو هیوادونو په ګډون هیڅ هیواد د طالبانو د تش په نامه اسلامي امارت استبدادي رژیم په رسمیت نه دی پیژندلی. په ورته وخت کې واکمنه ډله چې د ټوپک په زور یې واک تر لاسه کړی، د افغانستان له اتباعو څخه د ملي مشروعیت د ترلاسه کولو لیوالتیا نه لري، ځکه چې د خلکو په اراده، د هغوی په ازاده رایه او د دوی په مدني حقونو باور نه لري.

دغې تاوتریخجنې او وسله والې ډلې د هیواد د ټولو نافذه قوانینو د لغوه کولو اعلان کړی دی او د هیواد د اداره کولو لپاره یې د نورو قانوني لارو چارو په برابرولو سره په غیر قانوني توګه د حکومت واک په لاس کې نیولی دی. په دې توګه افغانستان نن له یوې قانوني خلا سره مخ دی.

په دې تشه کې د نشه یي توکو قاچاق او کښت چې له ډېرشو کلونو راهیسې د دې ډلې او دې ته د ورته ډلو د اقتصاد د ملا تیر جوړوي لا هم پراخیږي او افغانستان په نړۍ کې د مخدره موادو د قاچاق او پروسس په اصلي مرکز بدل شوی دی.

دا هر څه په داسې حال کې دي چې د طالبانو مشران اوس له یو شمېر ګاونډیو او د سیمې هېوادونو په همکارۍ د افغانستان د کانونو او طبیعي شتمنیو د لوټلو او له افغنستانه بهر د بهرنیو اسعارو پر انتقال بوخت یا په لټه کې دي.

د دې تاریخي ناورین مسوولیت پر هغو مداخلو کوونکو هېوادونو سربېره چې په تېرو پنځو لسیزو کې یې د نیابتي جګړو په پیلولو سره د افغانستان د بې ثباتۍ لامل شوي، په مستقیمه او ځانګړې توګه په تېرو شلو کلونو کې د هغو افرادو پر اوږو دی چه مشري، تصامیم، د هیواد امنیتي پالیسۍ، بهرنۍ تګلارې، اقتصادي پراختیا او حکومتدارۍ برخې یې په لاس کې وې او په حقیقت کې یې پوځي، اقتصادي او سیاسي واک ټول انحصار کړی و.

دغه کوچنۍ طبقې په مداخله کوونکو هېوادونو باندې په تکیې، مالي، اداري او اخلاقي فساد او له قانون څخه په پرله پسې سرغړونو سره، افغانان له تاریخي فرصتونو څخه بې برخې کړل، چې پر بنسټ یې د یوې ښې ټولنې د جوړولو زمینه برابره شي.

دغې کوچنۍ ډلې د تلپاتې سولې او ثبات د لاسته راوړلو لپاره او د بشري ټولنې د کاروان سره په همغږۍ اقتصادي هوساینې رامنځته کیدو چانس هم ضایع کړ او د خپلو شخصي، کورنیو، سمتي او ګوندي ګټو لپاره یې د دې خاورې د ملیونونو انسانانو قرباني او هیلې په سیند لاهو کړې.

دوی د جمهوري نظام د سقوط او د هیواد د نویو دولتي بنسټونو د ړنګیدو زمینه برابره کړه. دوی د دې هیواد دودیز بنســـټونه بدنام کړل؛ دوی د دې خاورې د ملیونونو خلکو د ازادۍ او ښــــه ژوند خوبونه له منځه یوړل او په دې وروســتیو کې یې په ښــکاره او غیر اخلاقي بې مسـوولیتۍ سـره چې بې له شـکه ملي خیانت ګڼل کیږي، د هېواد له سیاسي او نظامي مدیریته وتښتیدل او بې دفاع ولس یې په کور دننه بې برخلیک په میدان، پرېښود.

1. د بحران اصلي ریښې:

په افغانستان کې د معاصر بحران ریښې له دریو (تاریخي، کورنیو او بهرنیو) اړخونو ارزول کیدای شي:

کورنی اړخ:

د کړکیچ د ریښو مطالعه ښیي، چې افغانستان په جدي ډول د یوه ټولنیز تړون له تشې سره مخ دی، دا تړون چې تر اوسه حاکمانو د خپلو شخصي افکارو او ګټو پر بنا داسې وړاندې کړی چې ولس په طبقو او ډلګیو ویشـي، چې له شک پرته دغه ډول یو ټولنیز تړون د دې خاورې اوسیدونکو ته د منلو وړ ندی.

پر انساني ارزښتونو ولاړ د یوه متوازن، جامع او سنجول شوي ټولنیز تړون تشه ددې لامل شوې، چې په هیواد کې د همغږۍ فضا اغیزمنه، بشري او اقتصادي پرمختګ ټکنی او عدالت او قانون تر شا پاتې شي.

په حقیقت کې دا کمی د ټولنیزو کړکېچونو د زیاتېدو اصــــلي عامل دی، چې په پای کې یې له خلکو ســیاســـي واک واخیســت او د هېواد رهبري یې د څو کورنیو یا ځانګړو ډلو په لاس کې پرېښــوده. دا وضــعیت په تېره بیا په تېرو څلورو لســیزو کې د خپلو ســتراتیژیکو او جیوپولیټیک اهدافو د پرمخ بیولو لپاره د ســیمې د هېوادونو او د نړۍ د قدرتونو د مداخلې میدان ګرځېدلی دی. په دې توګه په داخلي ابعادو کې د مناســبو ټولنیزو، اقتصــــادي او ســیاســـي شرایطو شـتوالی تل د مداخلو او ښـکېلو هېوادونو د یرغل لپاره زمینه برابره کړې او د دې خاورې د اوسـېدونکو د نسلونو ژوند او وجود یې قرباني کړی دی.

موږ یوازې د شـلمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې د ډیموکراسـۍ لسـیزه داسـې یو فرصـت بللی شـو، چې د مدني خبرو اترو لپاره د پیل ټکي کیدای شــوای آن که په ډیر لومړني بڼه هم وای؛ خو له ټولنیز تړون ســره ســم د نوي عصــر اړتیاوې، د عصـري ټولنو سـره همغږي او ورته نورې اړتیاوې او د بشـري او اقتصـادي پرمختګ فرصـت په کې برابر و.

له بده مرغه ۱۳۵۲ هجري لمريز کال د چنګابښ کودتا دغه فرصت له منځه يوړ او د سياسي مديريت او د هيواد د اقتصادي، ټولنيزو، کلتوري او جيوپوليټيکل بحرانونو د حل له پاره رامنځته شوی فلټ فارم يې ګډ وډ کړ.
د سړې جګړې په اوج کې د ۱۳۵۲ کال کودتا او په سيمه کې سياسي بحرانونو افغانستان د بحران يوه بل پړاو ته ور د ننه کړ، چې د تېر په پرتله خورا پېچلی او ژور و.
دې ساړه شمال د افغانستان د سياسي مديريت مزل د يوه ګاونډي هيواد د مداخلې پر مټ ګډ وډ کړ، چې وروسته همدې هيواد د يوه ځانګړي مذهبي تعبير پر بنسټ له ترهګرۍ څخه د وسيلې په توګه کار واخيست او دا فرصت يې د ځان په ګټه په سيمه کې د خپلو ستراتيژيکو اهدافو د تعقيب لپاره وکاروه او تر څنګ يې هغه موخه هم تر لاسه کړه چې د خپل نفوذ د ساتلو لپاره يې د افغانستان بهرنی سياست په خپلو ګټو پورې غوټه کړی و او دا کار په افغانستان کې د سياسي واک او حکومت په سقوط سره ممکن و.
ورپسې کودتاو چې د برنی ملاتړ يې درلود، دا سياسي مفکوره لا پياوړې کړه چې د يوه بهرني هېواد په ملاتړ د افغانستان د سياسي ګوندونو او پوځي سياسي ډلو ترمنځ سياسي واک تر لاسه کولای شي. له ۱۳۵۷ هجري لمريز کال څخه تر اوسه پورې په افغانستان کې ټولې سياسي او مليشه ډلې سياسي واک ته د رسيدو تر ټولو آسانه لاره د يو يا څو بهرنيو هيوادونو په ملګرتوب د پوځ او وسلو درلودل ګڼي.
د دولت داخلي مشروعيت او سياسي مديريت چې د يوه هيواد د وګړو د ارادې پر بنسټ بايد د رايو په صندوقونو کې د خپلو ازادو رايو له لارې و آزمويل شي، له بده مرغه د دې ډلو په خبرو کې هيڅ ځای نه لري او يا هم له منځه وړل شوي او نا اندوله ګنل کيږي او د بهرني اړخ په اړه، افغانستان د اسيا په پوله کې د خپل ځانګړي جغرافيايي او جيوپوليټيک موقعيت له امله تل د فاتحانو تر نظر لانديې و او په راتلونکي کې به هم همداسې وي، چې له يوې خوا ختيځه اسيا له منځني ختيځ او له بلې خوا جنوبي اسيا او هند د منځنی اسيا سره نښلوي.
دغه ځانګړني په معاصر تاريخ کې هم په نولسمه پيړۍ کې د روسيې او بريتانيې د دوو څواکمنو هېوادونو په ګېون دې خاورې ته د نړۍ د قدرتونو د مستقيم تګ لامل وو. او شوروي اتحاد او امريکا يې په شلمه او يوويشتمه پيړۍ کې دلته له يو بل سره په رقابتي لوبو کې څرګند کړل.

## بهرنی اړخ:

پاکستان او د سيمې يو شمير نور هيوادونه په افغانستان کې دننه د نيابتي وسيلو په کارولو سره په سيمه کې د سيالی کولو ته زړه ښه کوي او په شلمه پيړۍ او په تيرو شلو کلونو کې يې خپل بخت آزمويلی او لا هم له دغو کړنو نه دي لاس په سر شوي.
د افغانستان او پاکستان ترمنځ د فرضي کرښې لانجه او د ځمکي پر سر دعوې، چې کولای شي د قانوني لارو او نړيوالو بنستونو له لارې ورته مناسب حل ومونډل شي د جګړې لامل ګرځيدلی و د پاکستان لوبې يې د خپلو نيابتي

پوځي وسـايلو په کارولو سـره لاپسـې زياتې کړي، چې اوس د يو زخم په توګه د دواړو هېوادونو په جوړښـت کې راښکاره شوی او په سيمه کې يې د سياسي او اقتصادي بې ثباتۍ لپاره نوره زمينه هم برابره کړې ده.
د ټولو نړيوالو، سـيمه ييزو او ګاونډيو لوبغاړو ګډ جيوپوليټيکل اهداف چې د افغانسـتان او خلکو په اړه بدبينانه او سپک نظريات، چې ټول يې کمزوری، بې ثباته، بې وزله او وروسـته پاتې افغانسـتان غواړي او له دې افغانسـتان يې موخه په اسـانی او خپلې خوښـۍ سـره يې د خپلو سـيالانو په وړاندې د جګړې د ډګر په توګه د يوه ځای موندل دي او دا هغه څه دي چې لا هم هره ورځ د افغانستان له خلکو قرباني اخلي.
په دې او دې ته ورته شاليد سره د افغانستان خاوره په تېرو څلوېښتو کلونو کې څو څو ځله د پرديو له ښکاره او پټ اشـغال سـره مخ شـوې ده. دا ټولې دردونکي تاريخي پيښـې او د پرديو فاتحانو او واکمنانو پرله پسـې يرغلونو او د هغوی د کورنيو سـياسـي مليشـو له خوا رامنځته شـوي، چې تاريخي مسـووليت يې هم د همدې ډلو او ټپلو پر غاړه دی.
د افغانسـتان د کړکيچ ريښـې په کورني او بهرني اړخ دواړو کې څو اړخيزه ريښـې لري، چې له همدې امله د يوه اړخ په ګوته کول او په نورو پيچلو اړخونو باندې سـترګې پټول د هيواد د بحران په حل کې مرسـته نه کوي. ځکه نو اړينه داده، چې د افغانسـتان د نوی نسـل او سـياسـي فعالين د خپلې وطن د ويجاړونکي او تاريخي بحران په څو معلومو او نامعلومو اړخونو کې له ويرې پرته په پوره روڼتيا سره بحث وکړي، ترڅو په علمي بنسټ د مثبت بدلون لپاره مناسب او منطقي پاليلي او پلان ته ورسيږي.

## دوهم څپرکی

## بنسټيز نظرونه او موخې

### 1. دولتي سيستم او نوی ټولنيز تړون:

د سـياسـي علومو او ټولنيز مديريت په اړه پراخې څېړنې او د تېر تاريخ درسـونه ښـيي چې د معاصـرې بشـري ټولنې د ګډو سـياسـي نظامونو له ډلې جمهوري نظام د خلکو د آزادې ارادې او رايه پر بنسـټ ولاړ وي، چې د دوی د مسـتقيمو غوښـتنو پايله ده او همدارنګه يوازينی سياسي نظام دی چې په حقيقت کې د يوې خاورې د اوسېدونکو د تابعيت حق تضـمينولی شـي. دا نظريه د افغانستان د ملي ازادۍ ګوند يو له بنسټيزو باورونو ده او موږ هوډ لرو چې د افغانستان له اتباعو سره په ګډه ددې باور لپاره کار وکړو ځکه دا نظريه د دولتي سيستم په جوړولو او د افغانستان په سياسي مديريت کې مهم ارزښت دی.

د افغانسـتان د ځمکنی بشـپړتیا سـاتل د یوه خپلواک او واحد دولت په توګه زموږ د سـیاسـي موخو بنسـټ دی او موږ يې نه یوازې خپل ځان مکلف ګڼو، بلکې دا د هر هېوادوال دنده او مسـوولیت بولو چې د همدغو اسـاسـي ارزښـتونو پر بنسـټ په افغانستان کې د یوه غیر متمرکز مدیریت په لرلو سره د یوه جمهوري نظام رامنځته کول اصل وګڼي.
همدا سیستم د هېواد د ټولو اتباعو د ګډ برخلیک په ټاکلو لاره ټاکي او په دوامداره توګه د افغان اتباعو د بنسټیزو د خوندیتوب او ساتلو لپاره مناسبه لاره ده.
زموږ په اند د افغانسـتان راتلونکی باید د ډیموکراسـی د نړیوالو او منل شـویو ارزښـتونو پر بنسـټ یو جمهوري دولتي نظام تضمین کړي.
د افغانستان جمهوري ریاست باید د یوه نوي ټولنیز تړون پر بنسټ د افغان وګړو د حقونو اساسي کرښې او په لویو او مهمو سیاسي چارو او پریکړو کې د ولس د استازیتوب میکانیزم ترتیب او تنظیم کړي.
دا چې ولسونه هم ځان په پریکړو کې شریک وګڼي او هم د مسوولیت احساس ولري په دې توګه د افغانستان د پرمختګ مزل چټکیږي او له شته ظرفیتونو د مناسبې ګټه اخیستنې تر څنګ د نویو افکارو د راټوکیدلو فرصت هم برابریږي، چې پر مټ يې ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ثبات او پرمختګ رامنځته کیدای شي.
دا نوی ټولنیز تړون به چې د افغانسـتان د نوي اسـاسـي قانون په چوکاټ کې ترتیبیږي او په کې به د افغانسـتان بشـري، کلتوري او ټولنیز جوړښت سره سم د ټولنې د ټولو اقشـارو حقونه خوندي کوي او د نظریاتي تبادلې لپاره به نوي فرصتونه رامنځته کړي او د دې فکري محور په شاوخوا کې به لوی اکثریت افغانان په اجماع سره د عدالت او برابری پر بنسټ په ګډ کار سره بایلل شوي ارزښتونه او وقار بیرته تر لاسه کړي.
موږ دا خپل مسوولیت ګڼو چې په همدې محور د پایدارې سولې او سوکاله ژوند برابرولو لا زیاتې هلې ځلې وکړو.
ددې موخو د تر لاسـه کولو لپاره د افغانسـتان د آزادئ ملي ګوند په ملي، سـیمه ییزه او نړیواله کچه لنډ مهاله، منځمهال او اوږدمهاله اهداف ټاکي، چې د دوامداره خبرو اترو پر مټ به تعقیبیږي.

### 2. د افغانستان د وګړو د اساسي حقونو ملي وثیقه:

د افغانسـتان پر جغرافیه د اوسـیدونکو ټولو اتباعو حقونه د افغانسـتان د آزادئ ملي ګوند تر ټولو مهم ارزښـتونو دي او له همدې امله د اوسیدو د حق خوندي کول او ساتنه زموږ د داعیې او سیاسي مبارزو یوه اساسي موخه ده.
د افغانسـتان د آزادئ ملي ګوند ویاړي، چې په دې سند کې په لومړي ځل د افغانسـتان په سـیاسـي ادبیاتو کې د منل شـوي لس نړیوال اسـاسـي حقونه د(افغانسـتان د وګړو د اسـاسـي حقونو منشـور) په توګه وړاندې کوي او ددې وثیقې او منشـور د موادو عملي کیدل زموږ د سیاسي او مدني ارزښتونو یوه اساسي موخه ده.
د افغانانو له خوا د دې منشـور منل به په هیواد کې د نوي ټولنیز تړون پیاوړی فکري او حقوقي بنسـټ رامنځته کړي. د دې منشور تصویب د یوې ملي وثیقې په توګه د افغانستان د اتباعو په زړه کې د جمهوري بنسټ او اصل او رامنځته کول دي او

د اساسي قانون په ګډون نور ټول قوانین پر همدې بنسټ جوړېږي. "د افغان وګړو د بنسټیزو حقونو منشور" کې د یو بنسټیز تاریخي سند په توګه د بشریت تر ټولو اساسي ارزښتونه شامل دي او د دې منشور په منلو او پلي کولو سره، د هېواد د هر آزاد وګړی خپل اساسي حقونو ته بې له شکه لاسرسی مومي او په حقیقت کې دغه تاریخي ژمنه د معاصرو هېوادوالو او راتلونکو نسلونو لپاره د معاصر افغانستان د فکري بنسټ ډبره ده او په معاصره نړۍ کې د افغانستان په نوم د هېواد د ثبات او بقا تضمینوي. موږ په دې باور یو چې د افغانانو اساسي حقونه چې لاندې لس ارزښتونه پکې شامل دي، هر یو نړیوال ارزښت او د انساني ژوند کرامت په کې شامل دی:

1. د ژوند حق
2. د نظر او بیان د ازادۍ حق
3. د مدني غونډو حق او په سیاسي فعالیتونو او سازمانونو کې د ګډون حق
4. د تعلیم ترلاسه کولو حق
5. قضایي عدالت ته د لاسرسي حق
6. د کار او اقتصادي ګډون حق
7. اساسي روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي حق
8. د ټولنیزې هوساینې خدماتو ته د لاسرسي حق
9. شخصي امنیت ته د لاسرسي حق
10. د محرمیت او شخصي ملکیت حق

د یادو ارزښتونو تر څنګ د افغانانو د عمومي اجماع پر بنسټ ځینې نور مسائل هم د اړتیا پر مهال پر دې نوملړ ور اضافه کیدای شي.

### 3. خپلواک دولت او ازاد ملت:

د افغانستان ځواکمنتیا او ثبات د دې خاورې د اتباعو په متنوع جوړښت، رنګارنګۍ او ډول ډول جغرافیوي جوړښت کې دی. د افغانستان د آزادۍ ملي ګوند په دې اصولو ولاړ دی چې هر هغه څوک په دې جغرافیه کې ژوند کوي، چې په هره ژبه خبرې کوي او په هر مذهب وي، د افغانستان د آزاد ملت یوه نه بېلیدونکې برخه ده او د دې هیواد د یوه تبعه په توګه، د تابعیت حقونه او مکلفیتونه، لري او دا ګوند همدا تنوع د افغانستان د ټولنې د ثبات او استحکام اساسي راز ګڼي.
پر ټول ملت د یو شخص یا یوې ډلې د مشخصې مفکورې یا ایډیالوژیکي تپل یا د واک انحصار د افغان ملت له ارزښتونو سره په ټکر او د ملي امنیت پر زیان ده، موږ باور لرو چې د افغانستان سیاسي ثبات، کلتوري او اقتصادي هوساینه، سوکالي، بشري امنیت او تلپاتې سوله یوازې د یوه پیاوړي خپلواک دولت او یو خپلواک او ځواکمن ملت په درلودلو سره ترلاسه کیدای شي.

موږ، د افغانستان خلک، په دې تاریخي او برخلیک ټاکونکو شیبو کې یوازې دوه لارې لرو:

لومړی؛ دا چې د بحران دوام ته غاړه کېږدو او د تاریخي شرم او د څو نسلونو ناتواني په میراث پرېږدو چې زموږ تاریخي ستونزو ته منطقي حل ومومي.

دوهمه دا چې په عقلاني اقداماتو سره هڅه وکړو، له دې ناوړه تاریخي کړکیچ څخه راووځو او خپل انساني، کلتوري او تمدني وجود او خپله خاوره د تباهۍ له خطره وژغورو.

موږ غواړو د خپل وخت دا تریخ حقیقت ومنو، تر څو چې د افغانستان خلک د دې سپېڅلي هدف په محور کې ځانونه سمبال نه کړي او له سیاسي درایته کار وانخلي، نو د افغانستان د خلکو د ستونزو او د افغانستان د کړکیچ د حل لپاره به هیڅوک هڅه او هاند ونه کړي.

مدني عمل په نننۍ نړۍ کې ډېر ځواکمن هیوادونه له لسګونو حیاتي او امنیتي ستونزو سره مخ کړي دي او د خپلو ملي امنیتي ګټو د خوندي کولو لپاره له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. په نړۍ کې د هر هیواد اساسي لومړیتوب د خپلو ملي ګټو او اهدافو خوندي کول دي چې د معاصر سیاست محوري ارزښت دی. له همدې امله له نړیوالې ټولنې څخه د هر ډول د عادي یا بشردوستانه لاسوهنې تمه غلطه هیله او لار ورک کوونکی تصور دی.

د افغانستان ژغورل نن د وطن د هغه بچیو په لاس کې دی، چې په سیاسي او مدني حرکتونو سره کولی شي دا هیواد وژغوري.

که د لاریونونو او د افغانانو په تیره بیا د هیواد د ښځو د برحقه غوښتنو څرګندونو سره سره، د هغوی د بنسټیزو حقونو د تأمین او د طالبانو پر رژیم د نړیوالې ټولنې لخوا فشار راوړل شي، چې دغه مشروع غوښتنو ته ځواب ووایي، نو دغه وسله واله ډله به د دوی د حقونو د تامین په برخه کې خپلې هڅې وکړي: خو که په جبر او ټینګار سره خپلو ناروا دریځونو ته ادامه ورکوي او د افغانانو مشروع او برحقه حقوقو او غوښتنو ته هیڅ پام نه کوي، د راتلونکو جنګونو چې ډېر قربانیان به ولري، مسوولیت به یې نیغ په نیغه د مشرانو او جنګیالیو پر اوږو وي. په لومړي ګام کې به د سیمه ییزو او په دویم ګام کې به د نړیوالو ملاتړو په اوږو وي.

له بده مرغه د حکومت له غضب څخه له یوه کال څخه زیات وخت وروسته هم طالبانو له نړیوالې ټولنې سره په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی. د افغانانو ملي او دیني ارزښتونه یې نه دي مراعات کړي. کنوانسیونونو او دودیزو نړیوالو اصولو ته یې پام نه دی کړی؛ او تر اوسه پورې په هیواد کې د ملي ګټو او د وګړو د حقونو په چوکاټ کې د مشروع سیاسي واک او د قانون د حاکمیت د رامنځته کولو لپاره د منلو وړ حل لارې موندلو لپاره له نورو سره خبرو ته چمتو نه دي.

موږ باور لرو چې له دې بحران څخه د وتلو هڅه د افغانانو حق دی او په دې کې هم شک نشته چې آزادي د حق او د ملي حاکمیت د شعار په بدرګه له مختلفو سیاسي او مدني لارو تر لاسه کیدای شي.

د دې انساني ایډیال حالت د تر لاسه کولو لپاره د ټولو افغانانو لومړیتوب مدني او پراخه خبرې اترې دي، چې ټول سیاسي او مدني قوتونه پکې برخه واخلي، ترڅو د دې کړکیچ د پای ټکي ته ورسیږو او نور د هیڅ مور اوښکې د خپل ماشوم په غم او ژړا کې په تویې نشي. او د افغانستان په خاوره کې یو وږی او ناروغ ماشوم و نه موندل شي.

زمونږ د هیواد اوسنی وضعیت د ملي واکمنی د نه جوړښت په برخه کې د پرله پسې کړکیچونو پایله، په ښکاره ډول ښیي چې د افغانستان د ملي دولت د جوړولو پروژه د یوې بهرنۍ مفکورې او موډل پر بنسټ ده، چې ټولنیز، ایډیالوژیکي ، کلتوري او همدارنګه د کېنې، ښي او ملتپالو ایډیالوژیو د پیروانو د پرله پسې هڅو سره سره، چې کله ناکله د نه منلو وړ تاوتریخوالي سره هم مل وو، په استعماري دوره کې او د استعمار څخه وروسته دوره کې، په عمل کې ناکامه شوې.

د دغو بنسټونو بې کفایتي د افغانستان په مختلفو سیمو او متفاوتو بڼو ثابته شوې، ځکه چې دا فکري موډل د ټولنیز جوړښت، تنوع او د انساني او کلتوري جوړښت له پیچلتیاوو، اقتصادي ظرفیتونو او د افغانستان د طبیعي او بشري جغرافیې له جوړښت سره همغږی نه دی، له همدې امله د ملي دولت د جوړولو لپاره هر ډول هڅه د دغو مفکورو او جوړښتي موډل پر بنسټ ، په هره اراده او په هر ډول شرایطو کې یوه ناکامه هڅه ده او یوازې د افغانستان خلک د یوه بل وژونکي بحران ته مخامخ کوي.

په افغانستان کې د بشري او کلتوري ډلو جوړښتي پیچلتیا او تنوع او د کوچنیو کلتورونو د کثرت حقیقت منل په خپل ذات کې یو ارزښت او ځواک دی. د افغانستان د ملي ازادۍ ګوند په نظر، په افغانستان کې د (ملي دولت) د جوړولو وړاندیز شوی موډل باید د دې هیواد د سیمه ییزو واقعیتونو سره وتړل شي، ترڅو د ګډ مالکیت احساس منعکس کړي.

موږ باور لرو چې د جمهوري نظام په چوکاټ کې د دولت جوړښت، د وګړو حقونو او ډیموکراسۍ د نړیوالو ارزښتونو پر بنسټ، چې په دې هیواد کې د بشري او کلتوري شرایطو د تنوع هرکلی کوي، کولی شي د بشپړې خپلواکۍ لامل شي چې له یوې خوا به د ځواکمن حکومت او له بلې خوا به د یو آزاد ملت رامینځته کیدو سبب شي.

د وګړو حقونه او مساوات له هغه بنسټیزو ارزښتونو څخه دي، چې په دولت کې باید له کوچنیو کلتورونو سره منعکس شي او د ګډ ژوند فرصت برابر کړي.

یو غښتلی او خپلواک دولت د یو آزاد ملت په موجودیت کې کولی شي د انساني همغږۍ، یو بل منلو او یووالي ساحه پراخه کړي؛ د متحرک انساني کلتور پیاوړتیا او د پرمختګ، انفرادي سوکالۍ او بشري حقونو خوندیتوب لپاره د ټولو د هوساینې او د هیواد د سوکالۍ لپاره یو پلیټ فارم چمتو کړي.

د دې مادې پر بنسټ، هر هغه څوک چې په دې جغرافیه کې ژوند کوي، هغه که نارینه وي که ښځینه، د هرې ژبې، توکم، هویت، دیني او مذهبي عقایدو سره د افغانستان د آزاد ملت برخه ده او د یوه تبعه په توګه په دې هیواد کې له مساوي حقونو او حقوقو برخمن دي او د تابعیت مساوي حقوق او مکلفیتونه لري چې د ګډ برخلیک په ټاکلو کې برخه واخلي. موږ په دې باور یو چې د یوه خپلواک هیواد په حقوقي او سیاسي چوکاټ کې، هیڅ ډله، تر هیڅ عنوان او شرط لاندې، د نورو ټولنیزو ډلو د تابعیت حق له پامه نه شي غورځولی؛ د دوی له موجودیت او حقونو څخه انکار کول او د واک په سیستم کې د دوی د ونډې مخنیوی، یا خپلې ناروا او استبدادي غوښتنې په نورو تپل د معقولیت لاره نه ده.

### 4. سیاسي واک او د مشروعیت مسئله:

په سیاسي واک او حکومتولۍ کې د مشروعیت بنسټیز اصل او قانوني بنسټ بې له شکه د افغانانو خپلواکه اراده ده چې په بیلابیلو کچو، قضیو او په مشخصو وختونو کې د ازادو ټاکنو له لارې تمثیلیږي.

زمونږ له نظره، تر څو چې د افغانستان د ویجاړونکي کړکیچ اصلي ریښې وچې نه شي، زمونږ په هیواد او سیمه کې د تلپاتې سولې او ثبات ټینګیدل ناشوني ښکاري. سیاسي واک د افغانستان په خلکو پورې اړه لري چې په ملي او محلي تصمیمونو کې د هر وګړي د ازادې رایې له لارې یې استازیتوب کیږي.

له دې نظره، په هیواد کې د سیاسي او اداري مدیریت لپاره د سیاسي واک او حکومتولی د مشروعیت اساسي معیار او انډول یوازې د خلکو په ازاده رایه اندازه کیدلی شي.

ملي واکمني د افغانستان د ازادو خلکو امانت دی او دا الهي امانت باید ژر تر ژره دوی ته وسپارل شي. دا دنده یوازې د اتباعو په محور د جمهوري نظام په چوکاټ او د نړیوالو دیموکراتیکو ارزښتونو پر بنسټ ترسره کیدی شي، په همدې توګه، د جمهوري نظام پیاوړتیا او ثبات یوازې د خلکو د فعال ګډون له لارې تضمین کیدی شي چې په ازادو ټاکنو کې له کوم ځنډ پرته د رایې ورکولو له لارې خپله اراده څرګنده کړي.

په عین حال کې، د سیاسي واک ترلاسه کول او د حکومت او واکمنانو مشروعیت یوازې په ټاکنو کې د خلکو د آزادې رایې په معیارونو اندازه کیدی شي. د افغان ولس له ملاتړ او آزادې ارادې پرته د سیاسي واک غصب او د افغان ولس له مستقیم ګډون او ازادې رایې څخه لرې د حکومتولی په خپله خوښه او د ښکیلو ډلو له خوا د زور او بهرني ملاتړ په واسطه د حکومتولی لاس ته راوړل، په هر ډول، ناروا او غیرمشروع دي.

د دې ارزښت پر بنسټ، مونږ باور لرو چې حکومت باید د افغانستان د خلکو د ملي اجماع له لارې د ولسواکۍ د نړیوالو معیارونو او د افغانستان د ټولو خلکو د منل شویو ارزښتونو پر بنسټ رامنځته شي. د افغانستان په جمهوري سیستم کې د سیاسي واک رامنځته کول چې د دې خاورې د ټولو خلکو په اراده او د خپل برخلیک په ټاکلو کې د ګډون له لارې خپل مشروعیت ترلاسه کوي، نه یوازې په سیمه کې سیاسي او امنیتي ثبات راوستلی شي، بلکې معقولې لارې چارې هم برابرولی شي څو تاریخي بحرانونه په ریښو وچولو سره حل کړي او د افغانستان او سیمې د خلکو لپاره د خواخوږۍ، انساني او کلتوري هماهنګۍ یو پلیټ فارم رامینځته کړي.

### 5. غیر متمرکزه حکومتداري:

په افغانستان کې د سیاسي نظامونو او حکومتونو د سقوط یو له مهمو عواملو څخه د تصمیم نیونې واک، د پالیسۍ د تطابق او سیاسي کړنو د واک محدودیت د یو کس په لاس کې چې د دولت د مشر او یا د یوه محدودې فکري ډلې په لاس کې ګڼل کیږي، دی. په حقیقت کې مونږ د دې شاهدان یو چې د افغانانو د راتلونکو نسلونو برخلیک د یوه شخص یا بالاخره د یوې وړې ډلې په افکارو ټاکل شوی دی. دا څرګنده ده چې د داسې مدیریتي چلند بدمرغه پایله له سیاسي سقوط پرته بل څه نه شي کیدای چې په پایله کې به ټولنیز ناورین رامنځته کوي.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې که څه هم مونږ په رسمي توګه له یو دیکتاتور واکمن سره نه یو مخ شوي، خو په عمل کې د دې هیواد مشرانو تل د خپلو اعمالو د معافیت په شرایطو کې د وړو دیکتاتورانو په څیر د نامحدودو واکمنو په توګه چلند کړی دی. هرکله چې دوی وغواړي، د خپلې خوښې قوانین ماتوي او د هیوادوالو حقونه تر پښو لاندې کوي او د هیواد سترې ګټې یې د خپلو وړو شخصي، کورنیو یا ډله ییزو ګټو په پلمه قرباني کړي دي، خو پرته له سردار محمد داوودخان څخه چې

د جمهوریت په پای کې د فشار له امله یې د تیښتې پر ځای پاتې کیدلو ته یې لومړیتوب ورکړ او بې وزله ملت یې په بدبختۍ کې پرېښود پرته له دې چې د خپل ولس او هیواد په وړاندې ځان حساب ورکوونکی وګڼي. په دې توګه د هیواد سیاسي او اداري مدیریت نامحدود واک د یو کس په لاس کې او یا هم د یوې وړې فکري ډلې په لاس کې نیولو په تاریخي لحاظ خپله بې کفایتي او تباهي ثابته کړې ده او زموږ په اند دا په هیڅ ډول توجیه کیدی نشي او هیڅ د منلو وړ نده.

